مجله علمی بین المللی سلام

Salam International Academic Journal

*Journal Homepage* https//journal.salam.edu.af

سال یازدهم، شماره ۱۹، بهار ۱۴۰۵هـ ش

# د شتمنۍ پراختیا او فساد سره مبارزه د نبوي سنتو په رڼا کې

پوهنیار وجیه الله ناصح[۱]

DOI: 10.64104/V11.Issue19.No13.Spring.2026

ISSN 3078-9583 (Online)   ISSN 3078-9575 (Print)

تاریخ نشر ۱۴۰۵/۰۵/۱۷   تعداد صفحات: ۲۱   از صفحه ۲۷۰ تا ۲۹۰

## لنډیز

په دې مقاله کې د نبوي سنتو په رڼا کې د شتمنۍ پراختیا، مالي فساد سره مبارزه، څېړل شوې، ارزښت یې دا دی چې د مالي ودې، پراختیا او مالي سرچینو ساتنې، پالنې، او فساد سره مبارزې لارې چارې په ګوته کوي، د معلوماتو په راټولولو کې د وصفي تحلیلي کتابتوني تګلارې څخه ګټه پورته شوې، او دې پوښتنې ته ځواب ورلندې شوی چې: آیا نبوي سنت د مالي سرچینو او فساد سره مبارزې اړوند لارښوونې لري؟ په داسې توګه چې نبوي سنتو له نظره عامه مالي سرچینې یو امانت دی، په دې کې د خیانت مخنیوی باید له وس سره سم د هرې ممکنې لارې ترسره شي، او هر مالي مسئول باید د ژمنتیا او ورتیا لرونکی وي، او د کړنو څخه یې باید د څارنې ترځنګ پلټنه هم وشي؛ تر څو یادې سرچینې د اسلامي دولت مالي اړتیاوې هغسې پوره کړي څنګه چې یې په نبوي عصر کې پوره کولې، او په پایله کې به د اقتصادي امنیت، او ثبات لپاره زمینه برابره شي، او د امت تللی عزت او مجد به بېرته را وګرځي، او هوسا ژوند به یې پر نصیب شي.

**کلیدي کلیمې**: شتمنۍ، مال، فساد، مبارزه، نبوي سنت.

---

[۱]. استاد دیپارتمنت فقه و قانون پوهنځی شرعیات پوهنتون سلام. ۰۷۸۷۷۹۷۹۸۰، wajihullahn@gmail.com

استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می‌باشد

The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.

## سریزه

الحمد لله رب العالمين و الصلاة و السلام على النبي الأمين الذي بعث رحمةً للعالمين و على آله و صحبه أجمعين، و من تبعهم بإحسان إلى يوم الدين. و بعد!

له شک پرته چې اسلامي ټولنه ديني او اخلاقي ارزښتونو او انساني حقوقو ته په درناوي ولاړه ټولنه ده، چې خلکو ته سوکالۍ او نيکمرغي تضمينوي، له همدې کبله نبوی سنتو د مال سمبالولو، او اداره کولو ته ځانګړې توجه کړې، او مالي کړنې يې اخلاقي او ديني ارزښتونو سره تړلې دي، نو د مال ساتنه، سمونه، پنزونه د اسلامي دين د بنسټيزو موخو څخه ده، نو په مالي معاملاتو کې تل نبوي سنتو تربوي او اخلاقي اړخ ته ځير کړی، او په فکري او عملي ډګر کې يې د اړوندو اجتماعي او اقتصادي ننګوونو له منځه وړلو په موخه ريښتينولي او امانتداري لازمي ګڼلې، چې له همدې امله د مالي څارنې او د فساد مخنيوي برخو کې د نبوي تګلارو او لارښوونو څخه ګټه اخيستنه اړينه ده، تر څو هغه لارې چارې وپيژندل شي کومې چې د مالي څارنې او اقتصادي سرچينو څخه د ساتنې اړوند ستونزو ته حللارې وړاندې کوي او د ژوند ټولو برخو کې په داسې توګه پلي شي چې نويو اقتصادي او مالي موضوعاتو سره سمون او همغږي ولري، ځکه نبوي سنت هغه بډايه سرچينه ده چې بايد مومنان ترينه عملي ژوند زده کړي، او هغه ايماني او اخلاقي ارزښتونه ترې واخلي چې د دارينو نيکمرغي تضمينوي.

چې همدې موخو ته په کتني نبوي سنت داسې تګلاره وړاندې کوي چې پالنه، سمبالونه، او څارنه په داسې توګه تنظيم کړي چې اسلامي امت ته مالي سرچينې په اساسي ډول وساتي، او د هر ډول تيرې، فساد، د ملکيتونو غصب مخه ډب کړي، پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي: «مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلٍ فَلْيَجِئْ بِقَلِيلِهِ وَكَثِيرِهِ، فَمَا أُوتِيَ مِنْهُ أَخَذَ، وَمَا نُهِيَ عَنْهُ انْتَهَى»[١].

ژباړه: کوم کس چې مو په کوم (مالي) کار وګمارلو نو بايد لږ او ډير يې مونږ ته راوړي، نو هغه څه چې ورکړل شي هغه به واخلي او کوم څخه چې منعه شي ځان به ترينه وساتي.

او همدا شان فرمايي: «مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا »[٢]. ژباړه: چا چې زمونږ سره خيانت وکړ نوهغه زمونږ څخه نه دی.

په خواشينې سره چې مالي فساد د ټولنې په ټولو برخو اغيزه لري، لکه سياسي، اقتصادي، اداري، اجتماعي.

### د څيړنې اهميت

د دې څيړنې ارزښت په دې کې دی چې د نبوي سنتو په رڼا کې د مال وده مطرح کوي او د فساد مخنيوی بيانوي، او په ټولنه کې د اخلاقي ارزښتونو خپراوی لامل کيږي، او په دې سره د مال او مالي سرچينو ساتنه بيانيږي، او د شخصي ګټو، او رشوت، د مالونو غلا کولو، او مالي سرچينو ضايع کولو او نورو مالي او اداري فسادونو مخه ډب کيږي، چې په دې سره به اسلامي امت او افغاني ټولنه د مالي او اداري فساد ناوړه پديدې څخه وژغورل شي.

په دې سره په مالي برخو کې د معروف پيژندنه کيږي، او د منکر څخه د ځان ساتنې تحذير بيانيږي، او عامه مصالحو د ساتنې او عامه مفاسدو څخه ځان ساتنې پوهاوی رامنځته کيږي، چې په پايله کې د مالي سرچينو څخه د پالنې او څارنې مفاهيم په سم ډول پيژندل کيږي، او د ټولنيزې ودې زمينه برابريږي او په ټولنه کې د هوساينې او سوکالۍ فضا تضمينيږي.

### د څيړنې موخې

دا څېړنه ډېرې موخې لري، خو ځينې اړينې يې دا دي:

---

[١]- مسلم، أبو الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري النيسابوري( ١٣٣٤ هـ) الجامع الصحيح «صحيح مسلم» تركيا: دار الطباعة العامرة، باب تحريم هدايا العمال، ج ٦ ص ١٢، الرقم: ١٨٣٣.

[٢]- مسلم، صحيح مسلم، كتاب الايمان، بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ تَعَالَى وَسَلَّمَ: مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا، ج ١ ص ٦٩، الرقم: ١٠١.

۱. مال او هغې ته د ودې ورکولو اړوند نبوي تګلارو پېژندنه.
۲. د مالي سرچینو سمبالولو، څارلو او وده ورکولو اړوند د نبوي سنتو موخو پېژندنه.
۳. په نبوي عصر کې د مالي وده ییزو تګلارو پېژندنه.
۴. د هغه لارو چارو پېژندنه چې د مالي برخې د پرمختګ لامل ګرځي او د مالي فساد مخه نیسي.

## د څېړنې تګلاره

په دې څېړنه کې د وصفي تحلیلي کتابتوني تګلارې څخه په ګټه اخیستنې د مهمو علمي اسلامي مصادرو څخه معلومات د راټلونکو ټکو په پام کې نیولو سره راغونډ شوي:

۱. د څېړنې اړوند اصطلاحات تشریح شوي او اړوند سرچینو ته اشاره شوې.
۲. د فقهي مسایلو په اړه د علماوو ویناوې د دلایلو سره ذکر شوي.
۳. قرآني آیاتونوعزو د سورتونو او آیاتونو د شمیرې په ذکر کولو شوې.
۴. د نبوي حدیثونو تخریج ذکر شوی.
۵. او په پای کې د سرچینو لړ لیک ځای په ځای شوی.

## تیرو آثارو ته کتنه

په دې اړه په عمومي توګه ډیرو زیاتو کتابونو او آثارو یادونې کړې، خو په ټوله کې کولای شو راتلونکو آثارو یادونه وکړو:

۱. أثر المقاصد في التعامل من السنة النبوية فقها و تنزيلا، چې په الجزاير هیواد کې په الحاج خضر پوهنتون کې د ماسټرۍ رسالې په توګه لیکل شوې.

خو په دې اثر کې د مال ساتنې اړوند عمومي بحث شوی، او د نبوي سنتو په رڼا کې مالي سرچینو ساتنې او ودې اړوند یادونه نه وه شوې.

۲. ابراهیم، طلعت رمضان (۲۰۰۴م) النظام المالی فی الاسلام، دې لیکنه کې هم د مال په اړه عمومي بحث شوی، اما په ځانګړې توګه د نبوي سنتو په رڼا کې یادونه نه وه شوې.
۳. إبراهیم، قطب (ب، ت) النظم المالیة، په دې لیکنه کې هم په عمومي توګه د مالي سیسټمونو څېړنه شوې، چې اړتیا وه تر څو د اسلامي شریعت او په ځانګړې توګه نبوي سنتو په رڼا کې وڅېړل شي.

لنډه دا چې د مالي فساد په اړه ډیری کتابونه او رسالې لیکل شوي، خو دا لیکنې په عمومي ډول د فساد اړوند بیان کوي، مګر دا مقاله په ځانګړي ډول د شتمنۍ پراختیا بیانوي، او د فساد سره مبارزه د نبوي سنتو په رڼا کې څېړي، چې د نبوي سنتو په رڼا کې څېړنې ته اړتیا وه، تر څو د اسلامي شریعت دویم مصدر او سرچینې غنامندي او بډایتوب ځرګند شي، او همدا شان څنګه چې دا ټولې لیکنې په عربي ژبه وې، او په پښتو ژبه کې مې د دې موضوع اړوند څه مونده نه شو کړلای نو اړتیا وه چې په پښتو ملي ژبه کې هم هڅه وشي ترڅو دغه علمي خلا ډکه شي، چې دا څېړنه د دې هڅو یوه بیلګه بلل کیدای شي.

## د څېړنې پوښتنې

بنسټیزه پوښتنه:

نبوي سنت د مالي ودې او مالي فساد څخه د مخنیوي په اړه کومې لارښوونې لري؟

فرعي پوښتنې:

- نبوي سنتو د مالي سرچینو څخه د ساتنې او ودې او د څارنې په اړه کومو ارزښتونو ته لارښوونه کړې؟
- څنګه د مالي برخې څارنه وکړو او د مالي فساد مخنیوی وکړو؟

- آیا د مالي سرچینو څخه سمه ساتنه په اقتصادي ودې او پرمختگ کې اغیزه لرلای شي؟
- که مالي مسوول د حکومتي څارنې څخه خلاص شي، نو آیا د الهي څارنې څخه خلاصیږي؟
- آیا دیني او ایماني ضمیر چې ذاتي څارنه بلل کیږي، د ټولنې په پرمختگ اغیزه لرلای شي؟
- آیا د نبوي سنتو په رڼا کې کولای شو داسې مقاصدي پوهه رامنځته کړو چې مالي سرچینو څخه ساتنه وکړي، او د معاصرو مالي او اقتصادي موضوعاتو حللارې شي؟

## د څیړنې پلانیزه

دا څیړنه په راتلونکو مطالبو مشتمل ده:

- لومړی مبحث: د څیړنې اړوند اصطلاحاتو پیژندنه
- لومړی مطلب: د مال او شتمنۍ پیژندنه
- دویم مطلب: د مالي پراختیا پیژندنه
- دویم مبحث: د نبوي سنتو په رڼا کې مالي فساد سره مبارزه
- دریم مبحث: د نبوي سنتو په رڼا کې مالي څارنه او پلټنه
- څلورم مبحث: په نبوي عصر کې مالي سرچینې او په مدیریت کې یې د سنتو رول
- پنځم مبحث: عامه لگښتونه او د هغې اصول او پرې څارنه
- لومړی مطلب: د عامه لگښت اصول
- دویم مطلب: په عامه مالي سرچینو څارنه
- شپږم مبحث: په معاصر اقتصاد کې د مال ساتنې او فساد مخنیوي اړوند اهداف
- پای: د څیړنې پایلې

## لومړی مبحث: د څیړنې اړوند اصطلاحاتو پیژندنه

### لومړی مطلب: د مال او شتمنۍ پیژندنه

مال په لغت کې: هغه څه ته ویل کیږي: چې د انسان په ملکیت کې راتللای شي، لکه: سره زر، او سپین زر، او همدا شان هغه توکو ته هم ویل کیږي چې په ملکیت کې راتللای شي او ساتلای شي، او د عربو په اصطلاح کې عموماً د مال اطلاق په اوښانو کیږي.[١]

او په اصطلاح کې یې حنفي فقها داسې تعریفوي:

«ما یمیل إلیه الطبع ویمکن ادخاره لوقت الحاجة»[٢]. مال هغه دی چې طبیعت ورته میلان کوي، او د اړتیا په وخت کې یې ذخیره کول ممکن وي. او ځینې احناف یې بیا داسې تعریفوي: « موجود یمیل إلیه الطبع ویجري فیه البذل والمنع»[٣]. هغه موجود دی چې طبیعت ورته میلان کوي، او په کې ساتل او ورکول ترسره کیږي.

[١]- ابن الأثیر، مجد الدین أبو السعادات المبارك بن محمد بن محمد ابن عبد الکریم الشیباني الجزري ( ١٣٩٩هـ - ١٩٧٩م ) النهایة في غریب الحدیث والأثر، بیروت: المکتبة العلمیة، ج ٤ ص ٣٧٣.

[٢]- ابن عابدین، محمد أمین ( ١٣٨٦ هـ = ١٩٦٦ م) حاشیة رد المحتار، علی الدر المختار: شرح تنویر الأبصار، مصر : شرکة مکتبة ومطبعة مصطفی البابي الحلبي وأولاده، ط : الثانیة، ج ۴ ص ٥٠١.

[٣]- منلا خسرو الحنفي( ب، ت) درر الحکام شرح غرر الأحکام. دار إحیاء الکتب العربیة. ج ٢ ص ١٦٨.

او شتمنې چې په عربي ژبه کې د ثروت په نامه يادېږي، او زمونږ په ملي ژبو کې هم د ثروت اصطلاح ورته کارول کېږي، په لغت کې د زياتوالي، او بډايتوب په معنا کارول کېږي[١]، او په اصطلاح کې هر هغه مال، وګړو، توکو ته ويل کېږي چې ډېر زيات وي، او د خلکو اړتياوې پوره کړلای شي، لکه: ځمکې، قيمتي کانونه. لکه عربي مقوله ده چې وايي: "العالم العربيّ غنيّ بثرَواته الماديَّة والبشريَّة"[٢]. يعنې: عربي نړۍ د مادي او بشري شتمنيو په درلودلو سره بډايه ده.

نو مال او شتمنې هر هغه ارزښت لرونکي شي ته ويل کېږي، چې انساني اړتياوې پرې پوره شي، او د کړکيچنو حالاتو لپاره سپما شي، او د پرمختګ او آبادۍ وسيله وګرزيدلای شي.

**دويم مطلب: د شتمنۍ پراختيا پيژندنه**

**وده او پرمختګ:** هر هغه تمدني پروسه ده چې د انساني ټولنې بيلابيلې برخې را نغاړي، او ورته د هوساينې، عزت، ځخه ډک ژوند زمينه برابروي، او په انسان جوړونې داسې کار کوي، چې له يوې خوا ورته معنوي ارزښتونه وساتي، او له بلې خوا ورته مادي پرمختګونه را منځته کړي، او اقتصادي سرچينې ورته څرګندې، او مسخر کړي[٣].

له شک پرته چې د اسلامي ليدلوري څخه بشري او اقتصادي وده او پرمختګ هغه مهال را منځته کيدلای شي چې قرآني او نبوي لارښوونې عملي شي، لکه: په الهي ځمکه الهي حاکميت قايميدل، د ځمکې ودانول، او مړې ځمکې راژوندی کول، او نيالګي يکې کينول، او کرنه پکې کول، څنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا، أَوْ لِيَمْنَحْهَا، فَإِنْ لَمْ يفعل فليمسك أرضه»[٤]. ژباړه: څوک چې ځمکه لري نو ودې کري، او يا دې بل چا ته ( د کرنې لپاره ) ورکړي، نو که داسې نه کوي خپله ځمکه دې وساتي.

همدا شان پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي: «مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيْتَةً فَهِيَ لَهُ »[٥]. ژباړه: چا چې مړه (وچه) ځمکه ژوندې ( آباده) کړه نو هغه د ده خپله ده.

نو په دې رواياتو کې پيغمبر صلى الله عليه وسلم د اقتصادي سرچينو د را برسيره کولو او وده ورکولو، او د ځمکې ودانولو، او پرې پانګونه کولو، او د برکاتو څخه يې ګټه اخيستلو اړوند لارښوونه کړې، ځکه د اسلام له نظره د هر پرمختګ او هرې پراختيا اساسي محور په خپله انسان دی، نو ځکه خو الله تعالى ورته د ځمکې خلافت، او شرعي امانت ورکړی، څنګه چې الله تعالى فرمايي: وَإِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ خَلِيفَةٗ[٦]. ژباړه: او هغه مهال را ياد کړه چې ستا پالونکي ملايکوته وويل: يقيناْ زه په ځمکه کې خليفه ګرځوم.

او انسان ته يې په نورو مخلوقاتو ځانګړې غوراوی ورکړی، او د آبادۍ او پرمختګ په لور يې بللی، څنګه چې الله تعالى فرمايي: ﴿هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ وَٱسۡتَعۡمَرَكُمۡ فِيهَا﴾[٧]. ژباړه: هغه ذات دی چې تاسې يې د ځمکې څخه پيدا کړي ياست او تاسې څخه يې د ودانۍ غوښتنه کړې او پکې يې آباد کړي ياستې.

---

[١]- ابن القوطية ( ١٩٩٣ م ) كتاب الأفعال لابن القوطية، المحقق: علي فوده، العضو الفني للثقافة بوزارة المعارف، القاهره: مكتبة الخانجي، ط : الثانية، ص ١٣٧.

[٢]- عمر، أحمد مختار عبد الحميد( ١٤٢٩ هـ - ٢٠٠٨ م ) معجم اللغة العربية المعاصرة: عالم الكتب، ط: الأولى.ج ١ ص ٣١٥، ماده: ث ر و.

[٣]- حسنه، عمر عبيد( ١٩٨٨م ) تقديم لكتاب التنمية الاقتصادية في المنهج الإسلامي، ص ٩.

[٤]- البخاري، أبو عبد الله محمد بن إسماعيل الجعفي( ١٤١٤ هـ - ١٩٩٣ م) صحيح البخاري، المحقق: د. مصطفى ديب البغا، دمشق:دار ابن كثير، دار اليمامة، ط : الخامسة، كتاب المزارعة، باب: ما كَانَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم يُوَاسِي بَعْضُهُمْ بَعْضًا فِي الزِّرَاعَةِ وَالثَّمَرَةِ، ج ٢ ص ٨٢٤، الرقم: ٢٢١٥.

[٥]- السجستاني، أبو داود سليمان بن الأشعث الأزدي ( ١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩ م ) سنن أبي داودن المحقق: شعيب الأرنؤوط، محمد كامل قره بللي: دار الرسالة العالمية، ط: الأولى، كتاب الخراج و الإمارة و الفيء، باب إحياء الموات، ج ٤ ص ٦٨٠، الرقم: ٣٠٧٣.

[٦]- البقرة: ٣٠.

[٧]- هود: ٦١.

له شک پرته چې د شتمنۍ پراختیا لپاره دوه ډوله لارې دي: یوه مشروع او بله غیر مشروع، نو د غیرمشروع لارې څخه په مالي فساد سره تعبير کېږي، چې دا فساد په راتلونکي مبحث کې څېړل شوی.

**دویم مبحث: د نبوي سنتو په رڼا کې مالي فساد سره مبارزه**

فساد په لغت کې: د بطلان په معنا راځي، چې د اصلاح ضد بلل کیږي[1]، او په اصطلاح کې: د منځ لاریتوب او استقامت څخه وتلو ته وايي[2].

او دلته د هغو احادیثو یادونه کوو، چې د مالي فساد د اضرارو او له هغه سره د مبارزې په اړه لارښوونې لري، ځکه دغه برخه د ژوند په ټولو برخو منفي اغیزه کوي، لکه: غلا، احتکار، رشوت، فریب، جهالت، له منصب نه ناوړه ګټه اخیستنه، قمار، په امانتونو کې خیانت، او دیته ورته نور مالي فسادونه چې په ژوند ناوړه اغیزه کوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «إِذَا وَجَدْتُمُ الرَّجُلَ قَدْ غَلَّ، فَأَحْرِقُوا مَتَاعَهُ وَاضْرِبُوهُ»[3]. ژباړه: کله چې څوک وموندل چې د غنیمت( عامه مال) څخه يې غلا کړې وه، نو توکي يې وسوزوئ، او دی ووهئ.

او همدا شان پیغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي: «الْمُتَمَسِّكُ بِسُنَّتِي عِنْدَ فَسَادِ أُمَّتِي لَهُ أَجْرُ شَهِيدٍ»[4]. ژباړه: زما د امت د فساد په زمانه کې زما په سنتو چنګ وهونکي لپاره د شهيد ثواب دی.

د امت د فساد معنا دا ده چې د حق له لارې څخه منحرف شي، او په باطلو لارو روان شي، په دې اړه پیغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي: «الْغَزْوُ غَزْوَانِ: فَأَمَّا مَنِ ابْتَغَى وَجْهَ اللهِ، وَأَطَاعَ الْإِمَامَ، وَأَنْفَقَ الْكَرِيمَةَ، وَيَاسَرَ الشَّرِيكَ، وَاجْتَنَبَ الْفَسَادَ، فَإِنَّ نَوْمَهُ وَنُبْهَهُ أَجْرٌ كُلُّهُ، وَأَمَّا مَنْ غَزَا فَخْرًا وَرِيَاءً وَسُمْعَةً، وَعَصَى الْإِمَامَ، وَأَفْسَدَ فِي الْأَرْضِ، فَإِنَّهُ لَمْ يَرْجِعْ بِالْكَفَافِ»[5]. ژباړه: غزاګانې دوه ډوله دي: نو هغه څوک چې د الله تعالي رضایت غواړي، او د رهبر او امام اطاعت کوي، او خپل ارزښتمن مال مصرفوي، او خپل ملګري سره مالي مرسته کوي، او د فساد نه ډډه کوي، نو د ده خوب او ویښتیا ټول اجر او ثواب دی، او هغه څوک چې غزا کوي د ځان ښوونې او فخر کولو په نیت، او د امام نافرمانی کوي، او په ځمکه کې فساد کوي، نو دی به سر په سر هم را ونه ګرځي( ګنهګار به راګرځي).

او مالي فساد هغه منکر دی چې باید مخه يې ونیول شي، څنګه چې پیغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي: «مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ، وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ»[6]. ژباړه: چا چې له ستاسې نه ناروا( منکر) ولیده نو په لاس دې يې بدلون راولي، خو که يې په وس پوره نه وه نو په ژبه دې بدلون پکې راولي، او که دا يې هم په وس پوره نه وه نو په زړه دې بد وګڼي، او دا ډېر زیات کمزوری ایمان دی. او د عامه اموالو څخه څه اختلاس کول په حقیقت کې مالي فساد دی، پیغمبر صلى الله عليه وسلم

---

[1]- ابن منظور لسان العرب، ماده : فسد.

[2]- الاصفهانی، تفسير الراغب، ج ١ ص ١٠٠.

[3]- الترمذي، أبو عيسى محمد بن عيسى ( ١٩٩٦ م ) الجامع الكبير (سنن الترمذي) څېړنه: بشار عواد معروف، بيروت: دار الغرب الإسلامي، چاپ: اول، د حدودو بابونه، په غنيمت کې خيانت کونکي سره به څه کېږي باب ، ج ٣ ص ١٢٨، الرقم: ١٤٦١. ترمذي وايي: " دا حديث غريب دی، مونږ يې له دې سند پرته په بل سند نه پېژنو، خو د اهل علمو په اند پر همدې عمل کيږي، او همدا د اوزاعی، احمد، اسحاق وينا ده، او ما د محمد ( بخاري) څخه وپوښتل د دې حديث په اړه، نو هغه ووېل: دا حديث صالح بن محمد بن زايده روايت کړی، او هغه ابو واقد الليثي دی، چې منکر الحديث دی.

[4]- الطبراني، أبو القاسم سليمان بن أحمد( ١٤١٥ هـ - ١٩٩٥ م) المعجم الأوسط، المحقق: أبو معاذ طارق بن عوض الله بن محمد - أبو الفضل عبد المحسن بن إبراهيم الحسيني، القاهرة: دار الحرمين، ج ٥ ص ٣١٥، الرقم: ٥٤١٤، قال الطبراني: " لم يرو هذا الحديث عن عطاء إلا عبد العزيز بن أبي رواد، وتفرد به: ابنه عبد المجيد ".

[5]- السجستاني، سنن أبي داود، كتاب الجهاد، باب في من يغزو يلتمس الدنيا، ج ٤ ص ١٧٠، الرقم: ٢٥١٦. قال الأرنووط: " حسن موقوفا( على معاذبن جبل) ، وهذا إسناد ضعيف لضعف بقية بن الوليد، ثم إنه يدلس تدليس التسوية، ولم يصرح بالسماع في جميع طبقات الإسناد. أبو بحرية: هو عبد الله ابن قيس".

[6]- مسلم، صحيح مسلم، كتاب الإيمان، باب بيان كون النهي عن المنكر من الإيمان، وأن الإيمان يزيد وينقص، وأن الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر واجبان، ج ١ ص ٥٠، الرقم: ٤٩.

فرمايي: «وَلَا تَغُلُّوا، فَإِنَّ الْغُلُولَ نَارٌ وَعَارٌ عَلَى أَصْحَابِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ»[١]. ژباړه: د غنيمت مال څخه د ويش مخکې غلا مه کوئ، ځکه د غنيمت مال څخه غلا د غلا کونکو لپاره په دنيا او آخرت کې د اور او شرم لامل دی. نو غلول په حقيقت کې د فساد او هغه تجاوز دی چې د دوزخ لامل ګرځي.

نو د سياسي او اجتماعي نفوذ څخه ناوړه ګټه پورته کول، او د امت عامه شتمنيو چور کول او لوټ کول، غلول او فساد دی، د معاذ – رضى الله عنه- څخه روايت دی: بعثني رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى اليمن، فلما سرت أرسل في أثري فرددت، فقال: "أتدري لم بعثت إليك؟ لا تصيبن شيئا بغير إذني فإنه غلول، وَمَن يَغۡلُلۡ يَأۡتِ بِمَا غَلَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ[٢]، لهذا دعوتك، فامض لعملك"[٣]. ژباړه: پيغمبر صلى الله عليه وسلم يمن ته وليږلم، نو کله چې روان شوم، څوک يې راپسې را وليږل، نو بيرته ورغلم، نو راته وويل: آيا ته پوهيږې چې د څه لپاره مې ليږلې؟ هيڅ شی زما د اجازې پرته مه اخله؛ ځکه دا غلول- خيانت- دی، او الله فرمايي: چا چې د غنيمت مال څخه غلا وکړه نو د قيامت په ورځ به د خپلې غلا سره راځي، نو له همدې لپاره مې را وغوښتلې، نو زه خپل کار پسې.

نو د شرعي پولو څخه تجاوز کول د مالي سرچينو او عايداتي منابعو د له منځه تللو او د کښتونو او نسلونو د تباهۍ لامل ګرځي، او په پايله کې د ټول امت د ناکامۍ او بربادۍ سبب کيږي.

عامه مالي سرچينې په حقيقت کې د ټولو امت پورې تړلې شتمني ده، نو ټول امت بايد د دې فساد پر وړاندې مبارزه کې همغږي او همکاري ولري، او د بې غورۍ او بې پروايۍ نه دې ځان وساتي؛ ځکه چې که د اسلامي امت اقتصادي بېړۍ ډوبه شي، نو هر څه يې د تباهۍ په لور روانيږي؛ نو بايد د عامه مالي فساد پر وړاندې چوپه خوله پاتې نه شي بلکې د مالي منکراتو او خاينو چارواکو او لوټمارانو مخه دې ونيسي؛ څنګه چې د نعمان بن بشير – رضى الله عنه- څخه روايت دی چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم و فرمايل:

«مَثَلُ الْقَائِمِ عَلَى حُدُودِ اللَّهِ وَالْوَاقِعِ فِيهَا، كَمَثَلِ قَوْمٍ اسْتَهَمُوا عَلَى سَفِينَةٍ، فَأَصَابَ بَعْضُهُمْ أَعْلَاهَا وَبَعْضُهُمْ أَسْفَلَهَا، فَكَانَ الَّذِينَ فِي أَسْفَلِهَا إِذَا اسْتَقَوْا مِنَ الْمَاءِ مَرُّوا عَلَى مَنْ فَوْقَهُمْ، فَقَالُوا: لَوْ أَنَّا خَرَقْنَا فِي نَصِيبِنَا خَرْقًا، وَلَمْ نُؤْذِ مَنْ فَوْقَنَا، فَإِنْ يَتْرُكُوهُمْ وَمَا أَرَادُوا هَلَكُوا جَمِيعًا، وَإِنْ أَخَذُوا عَلَى أَيْدِيهِمْ نَجَوْا، وَنَجَوْا جَمِيعًا»[٤]. ژباړه: د هغه چا مثال چې د الله حدودو باندې ولاړ وي، او هغه چا چې د الهي حدودو څخه تجاوز کونکی وي، د هغه خلکو په شان دی چې په کشتۍ کې د قرعې په اساس ځينو ته پورتنۍ طبقه ورسيږي، او ځينو نورو ته يې لاندينۍ طبقه ورسيږي، نو کوم کسان چې په لاندينۍ طبقه کې وي، نو د اوبو ترلاسه کولو په موخه په پورتنۍ طبقه تيريږي، نو په خپل منځ کې وايي چې که دا خپله لاندينۍ طبقه سورې کړو- او اوبه ترلاسه کړو- او پورتنۍ طبقې ته مزاحمت ونه کړو او ورته ضرر ونه رسوو -نو ښه به وي- نو که – پورتنۍ طبقې والا- که يې پريږدي دې کار ته نو ټول به تباه شي، او که مخ نيوی يې وکړي نو ځانونو او نورو ټولو ته به نجات ورکړي.

نو خلک د عايداتي سرچينو د اختلاف سره سره خپل منځي همکاري کوي، او خپل منځي ستونزې حلوي، او اړتياوې پوره کوي، او بايد عامه مالي سرچينې په داسې ډول اداره او سمبال شي چې د ټولو منافع تامين کړي، او بنسټيزو عامه سرچينو څخه ساتنه وشي.

---

[١]- رواه أحمد والنسائي، وصححه ابن حبان. الصنعاني، محمد بن إسماعيل الأمير ( ١٤٣٣ هـ ) سبل السلام الموصلة إلى بلوغ المرام، تحقيق: محمد صبحي حسن حلاق، السعودية: دار ابن الجوزي للنشر والتوزيع
ط: الثالثة، ج ٧ ص ٢٢٢، الرقم: ١١٩٩.

[٢]- آل عمران: ١٦١.

[٣]- الترمذي، سنن الترمذي، كتاب الأحكام، باب ماجاء في هدايا الأمراء، ج ٣ ص ٦١٣، الرقم: ١٣٣٥.

[٤]- البخاري، صحيح البخاري، كتاب الشركة، باب: هل يقرع في القسمة والاستهام فيه، ج ٢ ص ٨٨٢، الرقم: ٢٣٦١.

### دریم مبحث: د نبوي سنتو په رڼا کې مالي څارنه او پلټنه

له شک پرته چې په اسلامي شریعت کې اهدافو ته پاملرنه ډېر ارزښت لري، او په خیرالقرون کې د انسانانو دنیوي او اخروي مصالحو ته پوره ځیر کیده، د هر مصلحت جلبول او هر فساد له منځه وړل، د ضرورونو او مشقتونو مخنیوی کول، او رحمت او تسامح رعایتول د اسلامي شریعت په هر حکم او فرمان کې په پام کې نیول شوي، او د اسلامي امت د پرمختګ لپاره د ژوند په ټولو برخو کې لارښوونې شوي.

نبوي سنت په داسې نصوصو مشتمل دي چې د عامه مالي سرچینو د مدیریت او څارنې او کارونې اړوند کلي قواعد اوبنسټیز اصول بلل کیږي، نو په شتمنیو باندې د څارنې اهمیت له دې څخه را څرګندیږي چې انسان په څمکه باندې د خلافت قایمولو دنده لري، او په ودانولو یې مامور دی؛ نو ځکه خو نبوي سنتو په عامه مالونو د څارنې او پراخونې، اړوند تفصیلي، لارښوونې کړي، او د راټولونې او په سمه توګه لګونې، او د خیانت، غلا او اختلاس څخه د ځان ساتنې اړوند یې اړینې لارښوونې کړي، لکه څنګه چې پیغبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «من غشنا فلیس منا»[١]. ژباړه: چا چې زمونږ سره خیانت وکړ نو زمونږ څخه نه دی.

دا وینا پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه مهال کړې چې کله یې مالي خیانت په بازار کې ولیده، چې روغ غنم یې د غنم کوټ له پاسه ایښي وه او په منځ کې وراسته او لانده غنم ځای په ځای کړي وه، چې په دې کار سره یې مالي خیانت ترسره کول، نو په حقیقت کې دې نص سره د خپل ځان نظارت بیان شوی، او عمومي څارنې اړوند یې اساسي لارښوونه کړې، چې د مالي خیانت پسې مالي څارنه په دنیا یا په آخرت کې را روانه ده.

او همدا شان یې د سالمه مالي اداري رامنځته کولو او د ناوړه اداري څخه د ځان ساتنې اړوند فرمایلي: «الْغَزْوُ غَزْوَان: فَأَمَّا مَنْ ابْتَغَى وَجْهَ اللهِ، وَأَطَاعَ الْإِمَامَ، وَأَنْفَقَ الْكَرِيمَةَ، وَيَاسَرَ الشَّرِيكَ، وَاجْتَنَبَ الْفَسَادَ، فَإِنَّ نَوْمَهُ وَنُبْهَهُ أَجْرٌ كُلُّهُ، وَأَمَّا مَنْ غَزَا فَخْرًا وَرِيَاءً وَسُمْعَةً، وَعَصَى الْإِمَامَ، وَأَفْسَدَ فِي الْأَرْضِ، فَإِنَّهُ لَمْ يَرْجِعْ بِالْكَفَافِ»[٢]. ژباړه: غزاګانې دوه ډوله دي: نو هغه څوک چې د الله تعالي رضایت غواړي، او د رهبر او امام اطاعت کوي، او خپل ارزښتمن مال مصرفوي، او خپل ملګري سره مالي مرسته کوي، او د فساد نه ډډه کوي، نو د ده خوب او ویښتیا ټول اجر او ثواب دی، او هغه څوک چې غزا کوي د ځان ښوونې او فخر کولو په نیت، او د امام نافرمانی کوي، او په ځمکه کې فساد کوي، نو دی به سر په سر هم را ونه ګرځي(ګنهګار به راګرځي).

او همدا شان د معاذ – رضی الله عنه- څخه روایت دی: بعثني رسول الله صلی الله علیه وسلم إلى اليمن، فلما سرت أرسل في أثري فرددت، فقال: " أتدري لم بعثت إليك؟ لا تصيبن شيئا بغير إذني فإنه غلول، وَمَن يَغۡلُلۡ يَأۡتِ بِمَا غَلَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ[٣]، لهذا دعوتك، فامض لعملك "[٤]. ژباړه: پیغمبر صلی الله علیه وسلم یمن ته ولیږلم، نو کله چې روان شوم، څوک یې راپسې را ولیږل، نو بیرته ورغلم، نو راته وویل: آیا ته پوهیږې چې د څه لپاره مې لیږلي؟ هیڅ شی زما د اجازې پرته مه اخله؛ ځکه دا غلول- خیانت- دی، او الله فرمایي: چا چې د غنیمت مال څخه غلا وکړه نو د قیامت په ورځ به د خپلې غلا سره راځي، نو له همدې لپاره مې را وغوښتلې، نو زه خپل کار پسې.

او همدا شان پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: «مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلٍ فَلْيَجِئْ بِقَلِيلِهِ وَكَثِيرِهِ، فَمَا أُوتِيَ مِنْهُ أَخَذَ، وَمَا نُهِيَ عَنْهُ انْتَهَى»[٥].

---

[١]- مسلم، صحیح مسلم، کتاب الایمان، باب قول النبي صلی الله علیه تعالی وسلم: من غشنا فلیس منا، ج ١ ص ٦٩، الرقم: ١٠١.

[٢]- السجستاني، سنن أبي داود، كتاب الجهاد، باب في من يغزو يلتمس الدنيا، ج ٤ ص ١٧٠، الرقم: ٢٥١٦. قال الأرنووط: " حسن موقوفا( على معاذبن جبل) ، وهذا إسناد ضعيف لضعف بقية بن الوليد، ثم إنه يدلس تدليس التسوية، ولم يصرح بالسماع في جميع طبقات الإسناد. أبو بحرية: هو عبد الله ابن قيس".

[٣]- آل عمران: ١٦١.

[٤]- الترمذي، سنن الترمذي، كتاب الأحكام، باب ماجاء في هدايا الأمراء، ج ٣ ص ٦١٣، الرقم: ١٣٣٥.

[٥]- مسلم، أبو الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري النيسابوري( ١٣٣٤ هـ) الجامع الصحيح «صحيح مسلم» تركيا: دار الطباعة العامرة، باب تحريم هدايا العمال، ج ٦ ص ١٢، الرقم: ١٨٣٣.

ژباړه: کوم کس چې مو په کوم (مالي) کار وګمارلو نو باید لږ او ډیر یې مونږ ته راوړي، نو هغه څه چې ورکړل شي هغه به واخلي او کوم څخه چې منعه شي ځان به ترینه وساتي.

نو هغه اداره او مالي سیستم چې په لږو لګښتونو ډیرې ګټې ولاړې وي، او د هر مالي فساد او منکر مخه پرې ډب کیږي، په حقیقت کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د لارښوونو موخه بلل کیږي، نو باید ورڅخه ګټه واخیستل شي.

نو له شک پرته چې نبوي منهج په اتباع سره د امت غوره والی را څرګندیږي، او عامه پراختیا، د وګړو ترمنځ همکاري، او ټولنیز تکافل رامنځته کیږي، او د معنویاتو لوړولو په پار او فساد له منځه وړلو په خاطر امر بالمعروف او نهی عن المنکر باید تر سره شي؛ تر څو د امت بریا، وحدت، امنیت، هوساینه تضمین شي، څنګه چې رب العالمین فرمایي: ﴿وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٞ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلۡخَيۡرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ﴾[1]. ژباړه: او باید له تاسې څخه یوه ډله داسې شي، چې د نیکیو په لور بلنه ورکړي، او امر بالمعروف وکړي، او نهی عن المنکر وکړي، او همدوی بریمن دي.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَتَأْمُرُنَّ بِالمَعْرُوفِ، وَلَتَنْهَوُنَّ عَنْ المُنْكَرِ أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَابًا مِنْهُ ثُمَّ تَدْعُونَهُ فَلَا يُسْتَجَابُ لَكُمْ»[2]. ژباړه: په هغه ذات مې دې قسم وي چې زما ساه یې په لاس کې ده، یا به هرومرو په نیکیو امر کوئ، او د بدیو څخه به هرو مرو منعه کوئ، او یا نژدې ده چې الله تعالی در باندې خپل عذاب را ولیږي، چې بیا به ورته دعا کوې خو نه به قبلیږي.

نو کله چې په ټولنه کې منکرات عام شول، او په امت کې فساد څرګند شو، او مخورو، صالحینو یې مخه ونه نیوله، او پر وړاندې یې مبارزه ونه کړه، نو الله تعالی به پرې داسې عذاب را ولیږي، چې صالحان او طالحان ټول به را ونغاړي.

نو د نبوي سنتو غوښتنه دا ده چې باید مالي څارنه جدي ونیول شي، او په دې توګه به د مالي او اقتصادي خطرونو مخه ونیول شي، او په پایله کې به پانګه اچونکې موسسه خپله پانګونه تقویه کړي، او د ونډوالو باور به په ځان لا ځواکمن کړي، او ټولنې لپاره به لاډیر کاري فرصتونه وړاندې کړي، او ملي او نړیوال اقتصاد د پرمختګ لامل به شي، او امت به د ځواکمن ثروت او اقتصاد خاوند شي.

نو نبوي سنت د معنویاتو د روزنې په موخه، د اخلاقو لوړاوي په پار، د وجدان اوضمیرروزنه کوي، چې په نتیجه کې د مالي سرچینو سم مدیریت او ورڅخه څارنه تامین کیږي، او هر واکمن آمر بالمعروف او ناهی عن المنکر ګڼل کیږي، او په نتیجه کې شفافیت، طهارت، اخلاص رامنځته کیږي، او بشري انرژي په سمه توګه کارول کیږي.

## څلورم مبحث: په نبوي عصر کې مالي سرچینې او په سمبالښت کې یې د سنتو رول

له شک پرته چې د شتمنیو او مالونو او عامه مالي سرچینو او اقتصادي برخو د تنظیم او ترتیب په باب کې نبوي سنت مخکښ بلل کیږي، چې اساسي بیلګې یې: زکات، فیی، جزیه، خراج، شاړو ځمکو آبادول، معادنو استخراج، وقف بلل کیږي، چې په راتلونکو مطالبو کې هغو ته ځغلنده کتنه کوو چې په نبوي عصر کې په عملي ډول استفاده کېدې:

### لومړی مطلب: زکات او د هغه اقتصادي او اجتماعي رول

زکات په لغت کې ودې او زیاتوالي او پاکوالي ته وایي[3]. او په اصطلاح کې فقهاوو داسې تعریف کړی: «تَمْلِيكُ جُزْءٍ مِنْ مَالٍ عَيَّنَهُ الشَّارِعُ مِنْ مُسْلِمٍ فَقِيرٍ غَيْرِ هَاشِمِيٍّ وَلَا مَوْلَاهُ، مَعَ قَطْعِ الْمَنْفَعَةِ عَنِ الْمُمَلِّكِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ لِلَّهِ تَعَالَى»[1]. ژباړه: د الله تعالی د خوښې

---

۱- آل عمران: ۱۰۴.

۲- الترمذي، سنن الترمذي، أبواب الفتن، باب ما جاء في الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر، ج ٤ ص ٤٦٨، الرقم: ٢١٦٩. و قال الترمذي: " حديث حسن".

۳- الفيومي، أحمد بن محمد بن علي الحموي، أبو العباس( ب، ت) المصباح المنير في غريب الشرح الكبير، بيروت: المكتبة العلمية، مادة: ز ك و ، ج ١ ص ٢٥٤.

په موخه د شارع لخوا د ټاکل شوي مال څخه ټاکل شوې برخې تمليک کول داسې فقير مسلمان ته چې په خپله هم هاشمي نه وي او مولا يې هم نه وي، په داسې توګه چې تمليک کونکي څخه يې منفعت کاملا ختم شي.

زکات د هغه بنسټيزو عامه مالي سرچينو څخه دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم يې په اړه داسې فرمايي: «تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فقرائهم»[٢]. ژباړه: د بډايانو څخه به اخيستل کيږي، او د دوی په فقيرانو به بيرته ويشل کيږي.

نو زکات هغه خپلواک مالي عامه سرچينه ده چې مصارف يې مشخص شوي، تر څو د اسلامي ټولنې کمزورو خلکو لاس نيوی پرې وشي، او د مسلمانانو ترمنځ خپل منځي تکافل او تضامن رامنځته شي، او هر کال د غنيانو لخوا فقيرانو ته چې ورکړه ترسره کيږي نو د هغوی زړونه هم پرې ګټل کيږي، او په اسلام باندې ثابت پاتې کيږي، او مسلمانانو ته وفادار ګرزيږي، نو له شک پرته چې زکات د الهي حقوقو څخه يو ثابت حق دی چې د اسلامي ټولنې وګړو ضروري اړتياوې پوره کوي، او بشري ژوند هغسې ژغوري څنګه چې اسلامي شريعت غوښتنه ده[٣]. او همدا شان د مسلمانانو ترمنځ د پانګې دوباره ويش د دوی په خوښه کوي، ترڅو ټولنيز عدالت رامنځته شي، او کينه او کدورت د ټولنې د وګړو څخه له منځه ولاړ شي.

او د زکات فرضيت په ډيرو زياتو نبوي احاديثو کې ذکر شوی، چې ځينې يې په راتلونکي ډول دي:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالْحَجِّ، وَصَوْمِ رمضان»[٤]. ژباړه: اسلام په پنځو (ارکانو) ولاړ دی: د دې ګواهي ورکول چې د الله نه پرته بل معبود نشته او محمد د الله استازی دی، او لمانځه اقامه، د زکات ورکړه، او حج، او د رمضان روژه.

خو د زکات واجبيدلو لپاره دا شرط دی چې زکات ورکونکی به د مال پوره مالک وي، او په قبضه کې به يې وي، او د بل چا حق به دغه مال پورې نه وي تړلی، چې له دې نه هدف دا دی چې دا اقتصادي سرچينې څخه سمه ساتنه، څارنه، وشي، او مالي فساد، غلا، رشوت، او ديته ورته مالي فسادونه د دې مال پراختيا مخه نيسي، او حقيقي يا حکمي ودې ته يې نه پريږدي.

او د زکات د فرضيت بنسټيزه فلسفه دا ده چې: په دغه ټاکلي مال ادا کولو سره به د غنيانو نه د بخل عادت لرې يا کم شي، او د فقيرانو او مستحقينو سره به همدردي او غمخوري وشي، او د دولت او ملت ترمنځ به د لوړو مصالحو په پام کې نيولو سره همغږي او همکاري رامنځته شي، او فقيران به د پيښو پر وړاندې مقاومت پيدا کړي، او د مالي انفلاسيون مخه به ونيول شي، او د دې مخه به ونيول شي چې پانګه دې د څو د ګوتو شمير کسانو په لاس کې منحصره شي، چې دې موضوع ته رب العالمين اشاره کوي، او فرمايي: ﴿كَيۡ لَا يَكُونَ دُولَةَۢ بَيۡنَ ٱلۡأَغۡنِيَآءِ مِنكُمۡ﴾[٥]. ژباړه: تر څو چې –پانګه- د پانګوالو او بډايانو ترمنځ لاس تر لاسه نه شي.

له شک پرته چې زکات د اړمنو او فقيرانو سره مرسته ده، او په ټولنه کې د اقتصادي توازن رامنځته کولو وسيله ده، او انساني نفسونو لپاره د بخل، کنجوسۍ څخه د پاک کولو ذريعه ده، او په دې سره مومن په مصرف او صدقه کولو آموخته کيږي، نو په ټوله کې ويلای شو چې زکات د هغو عامه مالي سرچينو څخه دی چې په انساني او اسلامي ټولنه کې اقتصادي او ټولنيز سمون او اصلاح رامنځته کوي.

## دويم مطلب: د عامه مصالحو اړوند نورې مالي سرچينې

له شک پرته چې د عامه مصالحو اړوند مالي سرچينې ډيرې دي، خو هغه مهمې يې په راتلونکي ډول دي:

---

[١]- ابن عابدين، محمد أمين( ١٣٨٦ هـ = ١٩٦٦ م ) حاشية رد المحتار، على الدر المختار: شرح تنوير الأبصار، مصر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي وأولاده، ط: الثانية ج ٢ ص ٢٥٦-٢٥٧.

[٢]- البخاري، صحيح البخاري، كتاب الزكاة، باب وجوب الزكاة، ج ٢ ص ٥٠٥، الرقم: ١٣٣١.

[٣]- الطريقي، عبد الله عبد المحسن(١٤٣٠هـ ٢٠٠٩م) الاقتصاد الإسلامي أسس و مبادئ و أهداف، جامعة الملك سعود ، ص ٤٢.

[٤]- البخاري، صحيح البخاري، كتاب الإيمان، باب الإيمان ... ج ١ ص ١٢، الرقم: ٨.

[٥]- الحشر: ٧.

۱. جزيه او د هغې مشروعيت

جزيه په لغت کې د ادا کولو او پرداخت کولو په معنا ده[۱]، او په اصطلاح کې داسې تعريف شوې: « ما يؤخذ من الكفار على إقامتهم تحت أيدي المسلمين»[۲]. هغه څه چې د کافرانو څخه په دار الاسلام کې د استوګنې له کبله اخيستل کيږي.

او د خراج سره يې توپير دا دی چې: خراج د ځمکې سره تړاو لري، او جزيه د وګړو او سرونو سره تړاو لري[۳]

نو جزيه هغه مال دی چې د کفارو لخوا مسلمانانو /اسلامي دولت ته د امان ورکونې له امله ادا کيږي، او د دې مشروعيت دليل هغه آيت د قرآن کريم دی چې فرمايي: حَتَّىٰ يُعْطُواْ ٱلْجِزيَةَ عَن يَدٍ وَهُم صَٰغِرُونَ [۴]. ژباړه: تر دې چې هغوی جزيه په خپل لاس ورکړي په داسې حال کې چې خوار او ذليل وي.

او د نبوي سنتو څخه هغه روايت دی: «أن النبي صلى الله عليه وسلم بعث خالد بن الوليد إلى أكيدر دومة، فأخذوه، فأتوه به، فحقن له دمه، وصالحه على الجزية»[۵] ژباړه: چې پيغمبر- صلى الله عليه وسلم- خالدبن الوليد د دومې[۶] مشر اکيدر ته وليږه، نو هغه ونيول شو، او پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته راوستل شو، نو وينه يې ورته محفوظه وګڼله ، او د جزيې په ورکړه يې ورسره سوله وکړه.

او کله چې به پيغمبر صلى الله عليه وسلم په کومه سريه يا جهادي کاروان باندې کوم امير ټاکه نو يو لړ وصيتونه يې ورته کړل چې د هغې له ډلې څخه دا هم دي: «فَإِنْ هُمْ أَبَوْا فَسَلْهُمُ الْجِزْيَةَ. فَإِنْ هُمْ أَجَابُوكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ. فَإِنْ هُمْ أَبَوْا فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ وَقَاتِلْهُمْ»[۷]. ژباړه: نو که هغوی د اسلام منلو څخه انکار وکړ، نو جزيه ورڅخه وغواړه، نو که يې ومنله ورڅخه قبوله يې کړه، او د دوی د آزارولو څخه ډډه وکړه، او که د اسلام راوړلو او جزيې ورکولو څخه يې انکار وکړ، نو د الله تعالی څخه مرسته وغواړه او پر وړاندې يې وجنګيږه.

او همدا شان پيغمبر صلى الله عليه وسلم د بحرين پادشاه ته ليکلي وه چې که اسلام نه مني نو جزيه دې ورکړي[۸].

نو جزيه هم د مهمو عامه مالي سرچينو څخه ګڼل کيږي، چې په دارالاسلام کې اوسيدونکو کافرانو څخه په دې هدف اخيستل کيږي، چې د اسلامي دولت د خدمتونو او امنيت څخه ګټه پورته کوي، او په دې مال سره بيت المال ته مالي عايدات راځي چې په ټوله کې د اسلامي امت د پياوړتيا لامل ګرځي.

۲. فيئ، غنيمت او مشروعيت يې

فيئ هغه مال دی چې د کافرانو څخه پرته له جنګ نه ترلاسه شوی وي، او غنيمت هغه مال دی چې د کافرانو څخه د جنګ په وسيله ترلاسه شوی وي [۹]، او له شک پرته چې د مالي سرچينو څخه ګڼل شوي، څنګه چې رب العالمين فرمايي:

---

۱- بطال، محمد بن أحمد بن محمد بن سليمان بن بطال الركبي، أبو عبد الله( : ۱۹۸۸ م ) النَّظْمُ المُسْتَعْذَبُ فِي تفْسِير غريبِ ألْفَاظِ المهَذّبِ، تحقيق: د. مصطفى عبد الحفيظ سَالِم، مكة المكرمة: المكتبة التجارية، ج ۲ ص ۳۰۰.

۲- ابن المبرد، جمال الدين أبو المحاسن يوسف بن حسن بن عبد الهادي الحنبلي الدمشقي الصالحي( ۱۴۱۱ هـ - ۱۹۹۱ م) الدر النقي في شرح ألفاظ الخرقي، المحقق: د رضوان مختار بن غربية، جدة - السعودية: دار المجتمع للنشر والتوزيع، ط: الأولى، ج ۳ ص ۷۷۷.

۳- أبو عُبيد، القاسم بن سلاّم بن عبد الله الهروي البغدادي( ب، ت) كتاب الأموال، المحقق: خليل محمد هراس، بيروت: دار الفكر، ص ۱۰۸، الرقم: ۲۲۳.

۴- التوبة: ۲۹.

۵- السجستاني، أبو داود سليمان بن الأشعث الأزدي( ۱۴۳۰ هـ - ۲۰۰۹ م ) سنن أبي داود، المحقق: شعيب الأرنؤوط ، محمد كامل قره بللي : دار الرسالة العالمية، ط : الأولى، ج ۴ ص ۶۴۵، الرقم: ۳۰۳۸. قال الأرنؤوط: " حديث حسن".

۶- دُومَةُ: دا سيمه د مديني او د شام ترمنځ پرته ده چې د اوسني سوريې په خاوره کې راځي. وګوره: الحموي، معجم البلدان: ج ۲ ص ۴۸۶.

۷- مسلم، صحيح مسلم، كتاب الجهاد والسير، باب تأمير الإمام الأمراء على البعوث، ج ۳ ص ۱۳۵۷، الرقم: ۱۷۳۱.

۸- المباركفوري، عبدالرحمن( ب ، ت) الرحيق المختوم، ص ۷۲.

۹- عمر، معجم اللغة العربية المعاصرة، مادة: ف ي أ، ج ۳ ص ۱۷۵۷.

﴿وَمَآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنۡهُمۡ فَمَآ أَوۡجَفۡتُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ خَيۡلٖ وَلَا رِكَابٖ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهُۥ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡقُرَىٰ فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ كَيۡ لَا يَكُونَ دُولَةَۢ بَيۡنَ ٱلۡأَغۡنِيَآءِ مِنكُمۡۚ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ﴾[1].

ژباړه: او هغه (مالونه) چې الله تعالی خپل استازي ته را گرځولي، نو تاسې پرې نه آسان او نه اوښان ځغلولي، لیکن الله تعالی خپل پیغمبران په هغه چا مسلط کوي چې اراده یې شي، او الله تعالی په هر شي قادر دی، هغه (مالونه) چې الله تعالی خپل استازي ته راگرځولي د ښارونو والاوو نه نو د الله او د هغه استازي، او د خپلولۍ لرونکو، او یتیمانو، او مسکینانو، او مسافرو لپاره دي، تر څو د بډایانو ترمنځ لاس تر لاسه نه شي، او هغه څه چې پیغمبر در کړل نو وایې خلئ، او څه چې یې در څخه منعه کړل نو ځان ترې وساتئ، او د الله تعالی څخه وویریږئ، یقنیا چې الله سخت عذاب ورکونکی دی.

همدا شان الله تعالی فرمایي: ﴿وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا غَنِمۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ﴾[2]. ژباړه: او پوه شئ چې هرو مرو هغه څه چې مو په غنیمت ترلاسه کړي، نو هرو مرو پنځمه برخه یې د الله، او د هغه استازي، او د خپلولۍ لرونکو، او یتیمانو، او مسکینانو، او مسافرو لپاره دی. او پاتې څلور برخې یې د اسلامي دولت نظامي کارمندانو (مجاهدینو او غازیانو) حق دی.

نو دغه آیاتونه د دې لارښوونه کوي چې فيې او غنیمت هم د اسلامي مالي سرچینو څخه دی، چې لګښت ځایونه هم ټاکل شوي، چې هغو مالونو ته هم شاملیږي چې: بې څښتنه وي، یا داسې متروکه مال وي چې وارث ونلري، او همداشان مغصوبه مال، او هغه ودیعت او عاریت ته هم شاملیږي چې څښتن ونه لري، او څوک چې یې په پنځه برخو ویشلو(تخمیس) قایل دي، نو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم برخه د مسلمانانو په عامه مصالحو کې مصرفوي، علی رضی الله عنه فرمایي: «ولاني رسول الله صلى الله عليه وسلم خمس الخمس، فوضعته مواضعه حياة رسول الله صلى الله عليه وسلم، وحياة أبي بكر، وحياة عمر، فأتي بمال، فدعاني، فقال: خذه، فقلت: لا أريده، قال: خذه فأنتم أحق به، قلت: قد استغنينا عنه، فجعله في بيت المال»[3]. ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د خمس الخمس و ویش دنده راکړه، نو ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکر، عمر په ژوند کې په هغه خپلو ټاکل شویو مصارفو ویشه، نو بیا یو وخت مالونه راوړل شول، او زه یې را وغوښتلم، او وې فرمایل: دا مال واخله! نو ما ورته وویل: نه یې غواړم، وویل: وایې خله؛ ځکه تاسې یې ډیر حقدار یاستې، ما وویل: مونږ ورڅخه بې اړتیا یو، نو هغه مال یې په بیت المال کې کېښود.

نو فيې او غنیمت مال هم د عامه مالي سرچینو څخه دی چې پرې د بیت المال لپاره عایدات ترلاسه کیږي.

۳. خراج او ارزښت یې

دا هغه لازمي حق دی چې په زراعتي ځمکو پورې تړلی دی، نو دا په حقیقت کې هغه کلنۍ مالیه ده چې پر زراعتي ځمکو باندې وضعه شوې؛ تر څو یې د ځمکې والا تادیه کړي، او د دولت عامه بودیجې ته شامل شي؛ او دا ځکه چې مزارع او دهقان ورڅخه استفاده کوي[4].

### خراج په دوه ډوله دی

لومړی: وظیفوي خراج، دا هغه دی چې په کلنۍ توګه د ځمکې حاصلاتي څواک پورې تړلي، نو کله چې ځمکه د زراعت او کرنې وړتیا ولري، او کال پرې تیر شي، نو کلنی خراج پرې لازمیږي، برابره خبره ده چې کرل شوي وي او که نه وي کرل شوې، نو دا

---

[1]- الحشر: ٦- ٧.

[2]- الأنفال: ٤١.

[3]- السجستاني، سنن أبي داود، تحقيق الارنووط، كتاب الخراج و الفيء، باب بيان موضع قسم الخمس و سهم ذوي القربى، ج ٤ ص ٥٩٨، الرقم: ٢٩٨٣.قال الأرنؤوط: " و إسناده ضعيف".

[4]- أبو يوسف يعقوب بن إبراهيم بن حبيب بن سعد بن حبتة الأنصاري( ب، ت) الخراج، المكتبة الأزهرية للتراث، ص ٣.

ډول تقريبا په ذمه باندې لازميږي.

دويم: مقاسمې خراج، دا هغه خراج دی چې د ځمکې د حاصلاتو پورې تړلی وي، که يې حاصلات درلودل خراج لازميږي، او که نه وه نو خراج نه لازميږي، او دا ډول خراج کله په کال کې څو ځله لازميږي د محصولاتو په اندازه[١].

خو د خراج په ايښودلو کې لاندې ټکي بايد رعايت شي:

-کرنيزو محصولاتو ته پکې بايد توجه وشي، که لوړ قيمت والا وه نو خراج به هم پرې لوړ تعين شي، او که د ټيټ قيمت والا وه نو خراج به هم پرې ټيټ او کم تعين شي.

-د ځمکې ځرنګوالی بايد په نظر کې ونيول شي، په دې معنا چې که ځمکه حاصلخيزه وه نو خراج به يې لوړ تعين شي، او که ځمکه کمزورې وه نو خراج به يې هم کم وضعه شي.

-زراعتي زيار او تکليف هم بايد په نظر کې ونيول شي، په دې معنا چې که په بې تکليفه اوبو ځمکه خړوبيدله نو خراج به يې لوړ وي، او که په مشقت او تکليف خړوبيدله نو خراج يې هم بايد کم وټاکل شي.

**پنځم مبحث: عامه لګښتونه او د هغې اصول او پرې څارنه**

چې دا په دوه مطلبونو مشتمل دی:

**لومړی مطلب: عامه لګښتونه او د هغې اصول**

چې دا بيا په دوه برخه مشتمل دی:

١. د عامه لګښتونو مفهوم او پرې څارنه

عامه لګښت: د هغه مالي مبلغ څخه عبارت دی چې د يو اداري شخص له لوري د عامه اړتياوو پوره کولو په موخه ادا کيږي[٢]. نو هغه مالونه چې د تيرو مالي سرچينو له لارې ترلاسه شوي، د ټولنې عامه ملکيت بلل کيږي، چې د دوی په استازولې به يې د مسلمانانو رهبر د عامه مصالحو په نظر کې نيولو سره د شرعي اصولو سره سم مصرفوي، او هيڅ مسوول او چارواکی نه شي کولای چې د خپل ټاکلي معاش او حق الزحمې څخه پورته څه ترلاسه کړي.

او د دې موضوع فلسفه دلته ده چې چارواکي د عامه مالونو او ملکيتونو امينان او استازی دي، مالکان يې نه دي؛ پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي: «مَا أُعْطِيكُمْ وَلاَ أَمْنَعُكُمْ، أَنَا قَاسِمٌ أَضَعُ حَيْثُ أُمِرْتُ»[٣]. ژباړه: زه په خپله تاسې ته څه نه درکوم او نه يې در څخه سپموم، زه وېشونکی يم هغه ځای کې يې ږدم چې راته پرې امر شوی.

نو د مسلمان مکلفيت دی چې په ټولو کړنو او ويناوو کې د رب العالمين رضا په نظر کې ونيسي، نو لګښتونه بايد په داسې توګه تر سره کړي چې د الله تعالی او رعيت حقوق په پام کې نيول شوي وي، څنګه چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي: «مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْتَرْعِيهِ اللهُ رَعِيَّةً، فَلَمْ يَحُطْهَا بِنُصْحِهِ لَمْ يَجِدْ رَائِحَةَ الجَنَّة»[٤]. ژباړه: کوم بنده ته چې الله تعالی د يو ملت او رعيت چارې ور په غاړه کړي، او بيا هغوی په خپلو نصايحو او خيرغوښتنو کې را ونه نغاړي، مګر دا چې د جنت بوی به هم ونه مومي.

دينه دا معلومه شوه چې د عامه ملکيتونه او عامه شتمنی بايد خپل شخصي ملکيت ونه ګڼل شي، بلکې د يو امانت په سترګه بايد ورته وګوري او په هغه ځايونو کې دې ولګوي چې د رعيت مصالح او ګټې خوندي کړي.

---

[١]- ابراهيم، طلعت رمضان(٢٠٠٤م) النظام المالی فی الاسلام، ط: الاولی، ص ١٤٨.

[٢]- إبراهيم، قطب(ب، ت) النظم المالية. ص ١٢٥.

[٣]- البخاري، صحيح البخاري، كتاب الخمس، باب: قول الله تعالى: {فأن لله خمسه وللرسول}، ج ٣ ص ١١٣٤، الرقم: ٢٩٤٩.

[٤]- البخاري، صحيح البخاري، كتاب الأحكام. باب: من استرعي رعية فلم ينصح. ج ٦ ص ٢٦١٤، الرقم: ٦٧٣١.

۲. د عامه لګښتونو اصول

له شک پرته چې د عامه لګښتونو اړوند یو لړ اصول دي چې د ښه تنظیم، او ترتیب په موخه یې رعایت اړین دی؛ تر څو عامه مالي سرچینې د ضایع کېدلو څخه وساتل شي، او د امت په وده ایزو او پراختیاییزو پروژو او چارو کې وکارول شي، نو دا اصول په راتلونکې توګه دي:

۱. دا چې په مشروعو لارو چارو کې داسې ولګول شي، چې عامه خلکو ته یې خیر او ګټه ورسیږي، لکه په مساکینو او فقیرانو باندې صدقه کول، خوراک ورکول، جامې ورته اخیستل، د مسجدونو، روغتونونو، ښوونځیو، مدارسو، علمي مراکزو جوړول، کوم چې د عامو خلکو مصالح ورسره تامین کېږي، پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: «أَلا كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ»[1]. ژباړه: خبردار چې تاسې ټول چارواکي یاستې او تاسې ټولو څخه به د خپل رعیت په اړه پوښتنه کیږي.

نو دې حدیث نه دا معلومیږي چې دولت باید خپل مسوولیت درک کړي، او په ښه ډول یې ادا کړي.

۲. دا چې په پاکو او مباحو لارو به لګول کېږي؛ ځکه په هغه څه باندې مصرف جواز نه لري کوم چې حرام وي، یا هم د حرامو وسیله وي؛ ځکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مال ضایع کول ناوړه کار بللی، څنګه چې فرمایي: (إن الله كره لكم ثلاثا: قيل وقال، وإضاعة المال وكثرة السؤال)[2]. ژباړه: یقیناً الله تعالی ستاسې لپاره درې – کارونه- بد ګڼلي: ډېر قیل او قال، او ضایع کول د مال، او کول د ډېر سوال.

۳. دا چې عامه لګښتونه به معقول او مناسب او د اړتیا په کچه وي، او د اسراف او فضول خرچې څخه به ډډه کیږي؛ ځکه الله تعالی فرمایي: ﴿وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُواْ لَمۡ يُسۡرِفُواْ وَلَمۡ يَقۡتُرُواْ وَكَانَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ قَوَامٗا﴾[3]. ژباړه: او هغه کسان چې کله مال لګوي نو نه فضول خرچي کوي، او نه بخیلي او کنجوسي کوي، او د دې ترمنځ ولاړ وي.

په حرامو کې مال لګول خو اسراف دی، مګر په مباحاتو کې مصرف بیا دوه حالتونه لري: یو داچې د مصرف کونکي حالت سره مناسب وي، او د مالي وس سره یې سم وي، چې دې حالت کې اسراف نه ګڼل کیږي، دویم دا چې د مالي توان څخه یې پورته وي، نو دا بیا دوه حالتونه لري: یو دا چې د موجوده یا متوقعه مفاسدو د دفع کولو له امله وي، نو دا اسراف نه دی، دویم دا چې سمه موخه ورڅخه و نه لري، نو دا بیا د جمهورو علماوو په اند په اسرااف کې راځي[4].

٤. دا چې لګښت به د عاید په اندازه وي، نو د عاید نه پورته لګښت جواز نه لري؛ ځکه بیا به د ملاماتوونکو پوروونو لاندې راشي چې ژوند ورته تریخ کړي، پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: «خير الصدقة ما كان عن ظهر غني»[5]. ژباړه: غوره صدقه – لګښت – هغه دی چې د بډایه لخوا وي. نو عامه لګښتونه باید د اقتصادي حالت سره سم وي.

۵. دا چې عامه لګښتونه به پر مسلمانانو او دار الاسلام کې اوسیدونکو کافرانو باندې کیږي، نو دا په خپله د اسلامي دین د زغم او پراخ بنسټ والي نښه ده، څنګه چې رب العالمین فرمایي: ﴿إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡعَٰمِلِينَ عَلَيۡهَا وَٱلۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمۡ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَٱلۡغَٰرِمِينَ وَفِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۖ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ﴾[6]. ژباړه: یقیناً صدقات د فقیرانو، مسکینانو، د صدقاتو راټولو په موخه ګمارل شویو کارکونکو، هغه کسان چې زړونه یې جذب کیږي، او د غلامانو آزادولو، د پوروړو، او هغه

---

[1]- البخاري، صحيح البخاري، كتاب الأحكام، باب: قول الله تعالى: {أطيعوا الله وأطيعوا الرسول وأولي الأمر منكم}، ج ٦ ص ٢٦١١، الرقم: ٦٧١٩.

[2]- البخاري، صحيح البخاري، كتاب الزكاه، باب: قول الله تعالى: {لا يسألون الناس إلحافا}ج ٢ ص ٥٣٧، الرقم: ١٤٠٧.

[3]- الفرقان: ٦٧.

[4]- ابن حجر، أحمد بن علي العسقلاني( ١٣٨٠ - ١٣٩٠ هـ) فتح الباري بشرح البخاري

ترتيب و ترقيم : محمد فؤاد عبد الباقي، مصر: المكتبة السلفية، ط: الاولى، ج ١٠ ص ٤٠٨.

[5]- البخاري، صحيح البخاري، كتاب الزكاة، باب: لا صدقة إلا عن ظهر غنى، ج ٢ ص ٥١٨، الرقم: ١٣٦٠.

[6]- التوبه: ٦٠.

کسانو لپاره چې د الله په لار کې دي، او د مسافرو لپآره دی، چې د الله له لوري فرض شوې، او الله د علم او حکمت لرونکی دی.

نو په دې آیت کې چې کوم مولفه القلوب ذکر شوي، د دې نه مراد کافران دي، خو ډولونه یې مختلف دي: ځینو ته صدقات ورکول کیږي؛ تر څو ایمان او اسلام راوړي، لکه: د مکې د فتح په ورځ پیغمبر صلی الله علیه وسلم صفوان بن امیه ته د عامه مال څخه ډېر څه ورکړل، او ځینو نورو ته صدقات ورکول کیږي؛ تر څو یې زړونه په اسلام ثابت پاتې شي، او د مسلمانانو ډله پرې قوي شي، لکه: د مکې د فتح په ورځ پیغمبر صلی الله علیه وسلم نوي مسلمان شوي کافرانو ته صدقات او عامه مالونه ورکړل[1].

همدا شان الله فرمايي: ﴿لَّا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَلَمۡ يُخۡرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمۡ أَن تَبَرُّوهُمۡ وَتُقۡسِطُوٓاْ إِلَيۡهِمۡ﴾[2]. ژباړه: الله تعالی له دې څخه تاسې نه منعه کوي چې د هغه کسانو سره نیکي وکړې او عادلانه چلند ورسره وکړې کومو چې نه ستاسې مقابل کې جنګ کړی، او نه یې تاسې له خپلو کورونو څخه ویستلي یاستې. نو دینه هم دا معلومه شوه چې د غیر محاربو کافرانو سره هم مالي مرسته جواز لري.

بیا په ځانګړي ډول په اوسني وضعیت کې چې په اسلامي نړۍ کې ملي حکومتونه دي، نو دې کې بیا باید د تابعیت په اساس ټول هغه حقوق ورکړل شي، چې کوم عامو اتباعو ته ورکول کیږي.

٦. عامه لګښتونه باید په سودي معاملاتو او حرامو راکړې ورکړې نه وي، مشتمل؛ څنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْ﴾[3]. ژباړه: او سود یې حرام ګرځولی. نو په اسلام کې د سود څخه ځان ساتنه په ټولو معاملاتو او لګښتونو کې لازم ده.

٧. باید لومړیتوبونه، په نظر کې ونیول شي، د مثال په توګه که چېرې یو ملت یا امت له یوې خوا د ولږې سره لاس او ګرېوان وي، او له بلې خوا یې پارکونه خراب وي، نو باید لومړی یې د ولږې را کمولو او له منځه وړلو غم وخوړل شي، نه دا چې خلک د ولږې مري او عامه شتمنی یې د پارکونو په جوړولو لړول کیږي؛ دا ځکه چې په اسلامي شریعت کې په ضروریاتو لګښت مقدم دی له حاجیاتو څخه، او بیا د حاجیاتو اړوند لګښت مقدم دی له تحسینیاتو څخه، کله چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم معاذ رضی الله عنه یمن ته د حاکم او والي په توګه لېږلو، نو د کلیمې او لمانځه څخه وروسته یې د بېوزلې د کمولو لارښوونه ورته وکړه او وې فرمایل: «فأعلمهم أن الله افترض عليهم صدقة في أموالهم، تؤخذ من أغنيائهم وترد على فقرائهم»[4]. ژباړه: نو دوی پوه کړه چې یقیناً الله په دوی باندې د مالونو زکات فرض کړی، چې د دوی له پډایانو څخه به اخیستل کیږي، او د دوی بېوزلو ته به واپس ورکول کیږي.

نو دې حدیث نه معلومیږي چې په نبوي سنتو کې لومړیتوبونه په نظر کې نیول کېدل؛ ځکه خو د لمانځه اقامې نه وروسته د فقر او بېوزلې له منځه وړلو موضوع یاد شوې.

**دویم مطلب: د نبوي سنتو په رڼا کې د عامه مالي سرچینو څخه څارنه او لګونه.**

په عامه مالي سرچینو باندې څارنه او د هغې پر ځای لګونه، د اسلامي ټولنې لپاره ټولنیز تکافل بلل کیږي، چې زکات او نور صدقات د دې تکافل د مادي برخې استازیتوب کوي، او حسبه او څارنه یې بیا د معنوي برخې استازیتوب کوي، پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي: «من استعملناه على عمل فرزقناه رزقا فما أخذ بعد ذلك فهو غلول»[5]. ژباړه: څوک چې مو په کومه دنده باندې وګماره، او

---

[1]- ابن كثير، أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي الدمشقي ( ١٤٢٠ هـ - ١٩٩٩ م ) تفسير القرآن العظيم، المحقق: سامي بن محمد السلامة، السعوديه: دار طيبة للنشر والتوزيع.ط: الثانية، ج ۴ ص ١٦٧.

[2]- الممتحنه: ٨.

[3]- البقرة : ٢٧٥.

[4]- البخاري، صحيح البخاري، كتاب الزكاه، باب وجوب الزكاه، ج ٢ ص ١٠۴، الرقم: ١٣٩٥.

[5]- السجستاني، سنن أبي داود، كتاب الخراج والفيء والإمارة، باب في أرزاق العمال، ج ٤ ص ٥٦٥، الرقم: ٢٩٤٢.

ټاکلی معاش مو ورته مقرر کړ، نو دېنه وروسته چې څه اخلي هغه مالي خیانت دی. نو دا حدیث په دې دلالت کوي چې د سیاسي او ټولنیز نفوذ، او عامه منصبونو څخه ناوړه ګټه اخیستل ناروا دي، او باید دا خیانت مخه د څارنې له لارې ونیول شي. او همدا شان د ابن اللتبیه قصه په دې دلالت کوي، چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم مالي مسئولین محاسبه کول: «اسْتَعْمَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم ابن اللتبية، رجلا من الأزدر، عَلَى الصَّدَقَة. فَجَاءَ بِالْمَالِ فَدَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم. فَقَالَ: هَذَا مَالُكُمْ. وَهَذِهِ هَدِيَّةٌ أُهْدِيَتْ لِي. فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّصلى الله عليه وسلم (أَفَلَا قَعَدْتَ فِي بَيْتِ أَبِيكَ وَأُمِّكَ فَتَنْظُرَ أَيُهْدَى إِلَيْكَ أَمْ لاَ؟)»[1]. ژباړه: پیغمبرصلی الله علیه وسلم د ازد قبیلې یو کس د ابن اللتبیه په نوم د زکاتونو او صدقاتو راټولولو مسئول وټاکه، - نو چې کله یې مالونه راوړل او پیغمبرصلی الله علیه وسلم ته یې وسپارل، نو وې ویل: دا ستاسې مال دی، او دا هغه ډالی ده چې ماته ډالۍ شوې، نو پیغمبرصلی الله علیه وسلم وفرمایل: نو ولې د پلار یا د مور په کور کې دې نه کېناستې چې بیا دې کتلي وای چې دا ډالۍ ګانې درته وړاندې کېدلې که نه ؟

دا حدیث کې پیغمبرصلی الله علیه وسلم له یوې خوا هغه ملامت کړی، او د هغه دا کړنه یې غندلې، او له بلې خوا یې مالي محاسبه او څارنه ترسره کړې.

همدا رنګه د بخاري په روایت کې داسې راغلي: «استعمل رسول الله صلى الله عليه وسلم رجلا من الأسد على صدقات بني سليم، يدعى ابن اللتبية، فلما جاء حاسبه»[2]. ژباړه: پیغمبرصلی الله علیه وسلم د اسد قبیلې څخه د بنوسلیم د زکاتونو راټولولو مسئول وټاکه، چې د ابن اللتبیه په نوم یادېده، نو کله چې ورته راغی، حساب یې ورسره تصفیه کړ.

دې حدیث نه معلومه شوه چې دا کس مالي مسئول وه نو ځکه ورسره مالي محاسبه وشوه، او مالي محاسبه د مالي څارنې فرعه ده، نو مالي څارنه او محاسبه د پیغمبرصلی الله علیه وسلم تګلاره ده.

همدا شان نورو احادیثو کې فرمایلي: «مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا»[3]. ژباړه: چا زمونږ سره خیانت وکړ نو زمونږ څخه نه دی. همدا شان پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایي: «مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ، وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ»[4]. ژباړه: چا چې له ستاسې نه ناروا (منکر) ولیده نو په لاس دې یې بدلون راولي، خو که یې په وس پوره نه وه نو په ژبه دې بدلون پکې راولي، او که دا یې هم په وس پوره نه وه نو په زړه دې بد وګڼي، او دا ډېر زیات کمزوری ایمان دی.

نو په اداري، سیاسي، مالي، قضایي اړخونو دا لازمه ده چې د عامه لګښتونو اړوند فساد پر وړاندې موثره او فعاله څارنه رامېنځته کړي؛ تر څو اخلاقي ارزښتونه وساتل شي، او د ټولنې مالي انرژي په معقوله او ګټوره توګه مصرف شي، او په پایله کې یې امت د فسادونو او نړېدلو څخه وژغورل شي، او د اقتصادي، مالي، اجتماعي امنیت څخه برخمن شي، او پراختیايي فعالیتونه را مینځته شي، تر څو اسلامي امت د نړېوالو سیالانو سره سیال شي، او په نړېوالو پریکړو کې وزن او اغیزه پیدا کړي.

خو که چېرې د امت عامه مالي سرچینو اړوند مالي او اداري څارنه کمزورې وي، نو فساد به خپور شي، او د زوال پرلور به کاروان روان وي، څنګه چې حدیث کې راغلي د پیغمبرصلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل شول چې: «أنهلك وفينا الصالحون؟ قال: (نعم، إذا كثر الخبث)»[5]. ژباړه: که چېرې په مونږ کې نیکان او صالحان خلک وي، بیا به هم هلاک کیږو؟ هغه وفرمایل: هو! کله چې فساد او ګندګي زیاته شي. خبث: یعنې د فساد او منکراتو خپرېدل، او پر وړاندې څارنه او مبارزه نه کېدل، او امت ورڅخه نه ساتل.

---

[1]- مسلم، صحیح مسلم، كتاب الإمارة، باب تحريم هدايا العمال، ج ٣ ص ١٤٦٣، الرقم: ١٨٣٢.

[2]- البخاري، صحيح البخاري، كتاب الزكاة، «باب قول الله تعالى {والعاملين عليها} ومحاسبة المصدقين مع الإمام» ج ٢ ص ١٣٠، الرقم: ١٥٠٠.

[3]- مسلم، صحيح مسلم، كتاب الإيمان، بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ تَعَالَى وَسَلَّمَ: مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا، ج ١ ص ٦٩، الرقم: ١٠١.

[4]- مسلم، صحيح مسلم، كتاب الإيمان، باب بيان كون النهي عن المنكر من الإيمان، وأن الإيمان يزيد وينقص، وأن الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر واجبان، ج ١ ص ٥٠، الرقم: ٤٩.

[5]- البخاري، صحيح البخاري، كتاب الأنبياء، باب: قصة يأجوج ومأجوج، ج ٣ ص ١٢٢١، الرقم: ٣١٦٨.

له شک پرته چې په اسلام کې څارنه بېلابېل ډولونه لري: لکه د خپل ځان، او ضمیر څارنه، څنګه چې نبوي تګلارې بنسټ د نفس په اصلاح ولاړ دی، دا ځکه چې باطني انقلاب، ظاهري انقلاب او بدلون راولي، نو باید د انسان ضمیر او ځان، تقوا او اخلاقي ارزښتونو ته ژمن وي، کوم چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم صفت او سیرت وه، عایشه- رضی الله عنها- فرمايي: "كَانَ خُلُقُهُ الْقُرْآنَ"[١]. ژباړه: د هغه اخلاق قرآن کریم وه. او قرآن کریم د فساد څخه منعه کوي. همدا شان په هره وینا او کړنه کې د الله تعالی څارنه اګر که د حاکم او نظام څخه لرې هم وي؛ ځکه مومن پوهیږي چې الله په هر حالت عالم او ناظر دی، څنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾[٢]. ژباړه: هرو مرو الله تعالی پر تاسې څارونکی دی.

او اخلاقي او سلوکي څارنه، څنګه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي: "من استعملناه على عمل فرزقناه رزقا فما أخذ بعد ذلك فهو غلول"[٣]. ژباړه: څوک چې مو په کومه دنده باندې وګماره، او تاکلی معاش مو ورته مقرر کړ، نو دېنه وروسته چې څه اخلي هغه مالي خیانت دی.

دې حدیث نه دا معلومیږي چې که حاکم اخلاقي او سلوکي وړتیا ونه لري، نو هرو مرو به په فساد کې ښکیل کیږي، خو که د دنیوي محاکمې څخه د منصب او موقف په بنسټ خلاص شي، د قیامت ورځې د سزا څخه نه شي خلاصېدلای، څنګه الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَن يَغۡلُلۡ يَأۡتِ بِمَا غَلَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ﴾[٤]. ژباړه: او چا چې د غنیمت مال پټ کړ، د قیامت په ورځ به د هغه پټ کړي مال سره راځي.

او شک نشته چې هر مالي او اداري فساد د ټولنې په پرمختګ او پراختیا او امنیت ناوړه اغېزې لري، نو اړینه ده چې د شفافیت او روڼتیا په موخه څارنه او پوښتنه او ګرویګنه رامېنځته شي، تر څو د امت عامه مصالح تضمین کړي، چې د دې مقصد لپاره د اسلامي دولت په تشکیلاتو کې یوه اداره د حسبې په نامه شتون لري، چې د مسلمانو وګړو د فعالیت څارنه کوي، او د اخلاقي، دیني، اقتصادي ارزښتونو څخه ساتنه کوي؛ له همدې امله د صالح راز دار مشاور نیولو په اړه تشویق او ترغیب راغلی؛ ځکه چې د صالح مشاور رازدار په نیکو مشورو د امت او رعیت حقوق، عامه مصالح او منافع خوندي کیږي.

### شپږم مبحث: په معاصر اقتصاد کې د مال ساتنې او فساد مخنیوي اړوند اهداف

د مال ساتنې اړوند اهدافو څخه مراد د خیر القرون هغه فقه ده چې د عامه مصالحو په نظر کې نیولو په بنسټ ولاړه ده، چې د هغې په رڼا کې د منکراتو څخه منع کونکي قوانین، او فساد پر وړاندې مبارزې اړوند اصول، او روڼتیا، محاسبې، پوښتنې ګرویګنې، اړوند قواعد رامېنځته کېدلای شي، او د ځمکې د آبادې او عقلاني ودې لامل ګرځي، او اقتصادي فعالیت او تولید انګیزه رامېنځته کېدای شي، نو د نبوي سنتو نصوص د بشري مصالحو په رعایت ولاړ دي؛ چې له همدې امله پیغمبر صلی الله علیه وسلم د عامه مالونو د ساتنې امر کړی او په هغې کې هر ډول چل او فریب او خیانت بې حرام بللی او په اړه یې د ځانې، او ټولنیزې څارنې اړینې لارښوونې کړي، څنګه چې فرمايي: «مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا»[٥]. ژباړه: چا چې زمونږ سره خیانت وکړ نو زمونږ څخه نه دی.

نو د بشري امکاناتو او وړتیاوو د پراختیا لپاره محاسبه او څارنه اړینه ده، او د وګړو اقتصادي او اجتماعي فعالیتونو ارزونې په موخه ایماني او وجداني روزنه اړینه ده، او د موسساتي فعالیتونو په پار داسې حوکمې او احتساب رامېنځته کول اړین دي، چې د مالي سرچینو څخه سمه ګټه پورته شي، او اقتصادي او اجتماعي ثبات او امنیت تامین شي، څنګه چې د عدي بن عمیره کندي څخه

---

[١]- البخاري، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة أبو عبد الله ( ١٤١٨ هـ - ١٩٩٧ م ) صحيح الأدب المفرد للإمام البخاري، تحقيق: محمد ناصر الدين الألباني: دار الصديق للنشر والتوزيع، ط: الرابعة، باب من دعا الله أن يحسن خلقه، ص ١٢٩.

[٢]- النساء: ١.

[٣]- السجستاني، سنن أبي داود، كتاب الخراج والفيء والإمارة، باب في أرزاق العمال، ج ٤ ص ٥٦٥، الرقم: ٢٩٤٢.

[٤]- آل عمران: ١٦١.

[٥]- مسلم، صحيح مسلم، كتاب الاِيمان، بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ تَعَالَى وَسَلَّمَ: مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا، ج ١ ص ٦٩، الرقم: ١٠١.

روايت دی: «مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلٍ فَكَتَمَنَا مِخْيَطًا فَمَا فَوْقَهُ، كَانَ غُلُولًا يَأْتِي بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. قَالَ: فَقَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ أَسْوَدُ مِنَ الْأَنْصَارِ، كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، اقْبَلْ عَنِّي عَمَلَكَ. قَالَ: وَمَا لَكَ؟ قَالَ: سَمِعْتُكَ تَقُولُ: كَذَا وَكَذَا. قَالَ: وَأَنَا أَقُولُهُ الْآنَ: مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلٍ، فَلْيَجِئْ بِقَلِيلِهِ وَكَثِيرِهِ، فَمَا أُوتِيَ مِنْهُ أَخَذَ، وَمَا نُهِيَ عَنْهُ انْتَهَى»[1]. ژباړه: څوک چې مې ستاسې نه په کوم کار وګماره، او زمونږ نه يې ستن يا د هغې نه لوړ شی پټ کړل، نو دا هغه مالي خيانت دی چې د قيامت په ورځ به يې راوړي، وايي: چې يو تور رنګی انصاري سړی ورته را پورته شو ګويا چې زه ورته ګورم، نو وې ويل: اې د الله رسوله! زما نه دې دنده بيرته در واخله، - نو پيغمبر- ورته وويل: ولې؟ په تا څه شوي؟ هغه وه ويل: ما ستا نه اورېدلي چې داسې داسې دې ويل، نو- پيغمبر- ورته وويل: هغه وينا اوس هم کوم، څوک چې مو ستاسې څخه په کوم کار وګماره، نو بايد – د دندې اړوند مال- دې لږ وي که ډېر وي را دې وړي، نو که بيا څه ورته بېرته ورکړل، وا دې خلي او هغه څه نه چې منعه شو، ځان دې ترېنه وساتي.

نو په دې حديث کې دا راغلل چې: د چاراواکو تحفې او هديې ناروا دي؛ دا ځکه چې که په کور کې ناست وای او واک يې نه درلودای نو دا ډالۍ به نه وې ورته راړل شوې، او ځکه خو يې د قيامت په ورځ راوړي، او د دغسې ډاليو حکم دا دی: چې که ډالۍ کونکی موجود وي نه هغې ته به يې بېرته ورکول کيږي، او که معلوم نه وه نو بيت المال ته به ورکول کيږي[2]. او همدا شان بايد په عامه دندو باندې هغه کسان وګمارل شي چې د وړتيا او ژمنتيا لرونکی وي، ځنګه چې پيغمبرصلی الله علیه وسلم فرمايي: «مَنِ اسْتَعْمَلَ رَجُلًا مِنْ عِصَابَةٍ وَفِي تِلْكَ الْعِصَابَةِ مَنْ هُوَ أَرْضَى لِلَّهِ مِنْهُ فَقَدْ خَانَ اللَّهَ وخانَ رَسُولَهُ وخانَ الْمُؤْمِنِينَ»[3]. ژباړه: چا چې د کومې ډلې څخه څوک وګماره، په داسې حال کې چې په هغه ډله کې د هغه څخه د ژمنتيا او وړتيا لرونکی وه، نو د الله سره خيانت وکړ، او د هغه رسول سره يې خيانت وکړ، او د مومنانو سره يې خيانت وکړ.

له شک پرته چې د مالي سرچينو او اقتصادي فعاليتونو څخه څارنه کول، کفايي فرض دی چې که يوه ډله يې تر سره کړي، نو د ټولو غاړه خلاصيږي، او عيني فرض نه دی؛ دا ځکه چې د کفايي فرض څخه موخه د خلکو عامه مصالحو څخه ساتنه ده ، او د ټولنې اقتصادي، سياسي، اجتماعي، ژوند اړوند ضروورياتو پوره کول دي[4].

## د څېړنې پايلې

د څېړنې په پای کې راتلونکې پايلې ترلاسه شوي:

- د نبوي تګلارې په رڼا کې داسې تربيوي وسايل چمتو کول چې وګړو ته آزاد خپلواک ژوند تضمين کړي.
- د عامه مالي سرچينو د اهميت په اړه عامه پوهاوی رامنځته کول، تر څو دغه عامه شتمنی په سمه توګه استفاده شي، او په پوره امانتدارې سره يې ساتنه وشي.
- د نبوي منهج په رڼا کې داسې انساني ټولنه بايد جوړه شي چې اخلاقي ارزښتونه په کې حاکم وي، او رهبر او قدوه په کې پيغمبر- صلی الله عليه و سلم- وي، تر څو واقعي اصلاح رامنځته شي، او هر وګړی د ځان، کورنۍ، ټولنې، په وړاندې خپل مسووليت په ښه توګه درک او ادا کړي.
- د نبوي سنتو په رڼا کې داسې څارنيزه روحيه باندې وګړي روزل چې که هيڅوک هم نه وي، الهي خوف يې د مالي فساد څخه مخه ونيسي.

---

[1]- مسلم، صحيح مسلم، کتاب الإمارة، باب تحريم هدايا العمال، ج ٦ ص ١٢، الرقم: ١٨٣٣.

[2]- النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف( 1392 ) المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، بيروت: دار إحياء التراث العربي، ط: الثانية، ج ١٢ ص ٢١٩.

[3]- النيسابوري، أبو عبد الله محمد بن عبد الله الحاكم ( ١٤١١ – ١٩٩٠) المستدرك على الصحيحين، تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا، بيروت: دار الكتب العلمية – بيروت : الأولى، ج ٤ ص ١٠٤، الرقم: ٧٠٢٣. قال: ( هذا حديث صحيح الإسناد ولم يخرجاه).

[4]- الشاطبي، أبو إسحاق إبراهيم بن موسى بن محمد اللخمي( ١٤١٧ هـ- ١٩٩٧ م) الموافقات، دار ابن عفان، ط: الأولى، ج ٢ ص ٣٠١.

- په عامه دندو باندې داسې کسان بايد وگمارل شي چې د وړتيا او ژمنتيا څښتنان وي.

## سرچينې


١. القرآن الكريم
٢. ابراهيم، طلعت رمضان (٢٠٠٤م) النظام المالى فى الاسلام، ط: الاولى.
٣. إبراهيم، قطب (ب، ت) النظم المالية، جامعه عين شمس.
٤. ابن الأثير، مجد الدين أبو السعادات المبارك بن محمد بن محمد بن محمد ابن عبد الكريم الشيباني الجزري(١٣٩٩هـ - ١٩٧٩م) النهاية في غريب الحديث والأثر، بيروت: المكتبة العلمية.
٥. ابن المبرد، جمال الدين أبو المحاسن يوسف بن حسن بن عبد الهادي الحنبلي الدمشقي الصالحي (١٤١١هـ - ١٩٩١م) الدر النقي في شرح ألفاظ الخرقي، المحقق: د رضوان مختار بن غربية، جدة - السعودية: دار المجتمع للنشر والتوزيع، ط: الأولى.
٦. ابن حجر، أحمد بن علي العسقلاني (١٣٨٠ - ١٣٩٠هـ) فتح الباري بشرح البخاري، بيروت: دارالكتب العلميه.
٧. ابن عابدين، محمد أمين (١٣٨٦هـ = ١٩٦٦م) حاشية رد المحتار، على الدر المختار: شرح تنويرالأبصار، مصر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي وأولاده، ط: الثانية .
٨. ابن كثير، أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي الدمشقي (١٤٢٠هـ - ١٩٩٩م) تفسير القرآن العظيم، المحقق: سامي بن محمد السلامة، السعوديه: دار طيبة للنشر والتوزيع. ط: الثانية.
٩. ابن القوطية (١٩٩٣م) كتاب الأفعال لابن القوطية، المحقق: علي فوده، العضو الفني للثقافة بوزارة المعارف، القاهره: مكتبة الخانجي، ط : الثانية،
١٠. ابن منظور، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين (١٤١٤هـ) لسان العرب، بيروت: دار صادر.
١١. أبو عُبيد، القاسم بن سلاّم بن عبد الله الهروي البغدادي (ب، ت) كتاب الأموال، المحقق: خليل محمد هراس، بيروت: دار الفكر.
١٢. أبو يوسف يعقوب بن إبراهيم بن حبيب بن سعد بن حبتة الأنصاري (ب، ت) الخراج، المكتبة الأزهرية للتراث.
١٣. الاصفهانى، أبو القاسم الحسين بن محمد (١٤٢٠هـ - ١٩٩٩م) تفسير الراغب، كلية الآداب - جامعة طنطا.
١٤. البخاري، أبو عبد الله محمد بن إسماعيل الجعفي (١٤١٤هـ - ١٩٩٣م) صحيح البخاري، المحقق: د. مصطفى ديب البغا، دمشق:دار ابن كثير، دار اليمامة، ط: الخامسة.
١٥. بطال، محمد بن أحمد بن محمد بن سليمان بن بطال الركبي، أبو عبد الله (١٩٨٨م) النَّظْمُ المُسْتَعْذَبُ فِي تفْسِير غريبِ ألْفَاظِ المهَذّبِ، تحقيق: د. مصطفى عبد الحفيظ سَالِم، مكة المكرمة: المكتبة التجارية.ترتيب و ترقيم : محمد فؤاد عبد الباقي، مصر: المكتبة السلفية، ط: الاولى.
١٦. الترمذي، أبو عيسى محمد بن عيسى (١٩٩٦م) الجامع الكبير (سنن الترمذي) تحقيق: بشار عواد معروف، بيروت: دار الغرب الإسلامي، ط: الأولى..
١٧. حسنه، عمر عبيد (١٩٨٨م) تقديم لكتاب التنمية الاقتصادية في المنهج الإسلامي.
١٨. الحموي، شهاب الدين أبو عبد الله ياقوت بن عبد الله الرومي (١٩٩٥م) معجم البلدان، بيروت: دار صادر.
١٩. الزحيلي، وهبه (ب، ت) الوجيز في أصول الفقه، دمشق: دار الفكر.
٢٠. السجستانى، أبو داود سليمان بن الأشعث الأزدي (١٤٣٠هـ - ٢٠٠٩م) سنن أبي داودِ المحقق: شعيب الأرنؤوط، محمد كامل قره بللي: دار الرسالة العالمية، ط: الأولى.
٢١. الشاطبي، أبو إسحاق إبراهيم بن موسى بن محمد اللخمي (١٤١٧هـ - ١٩٩٧م) الموافقات، دار ابن عفان، ط: الأولى.
٢٢. الصنعاني، محمد بن إسماعيل الأمير(١٤٣٣هـ) سبل السلام الموصلة إلى بلوغ المرام، تحقيق: محمد صبحي حسن حلاق، السعودية: دار ابن الجوزي للنشر والتوزيع، ط: الثالثة.

۲۳. الطبراني، أبو القاسم سليمان بن أحمد (١٤١٥هـ - ١٩٩٥م) المعجم الأوسط، المحقق: أبو معاذ طارق بن عوض الله بن محمد - أبو الفضل عبد المحسن بن إبراهيم الحسيني، القاهرة: دار الحرمين.

۲۴. الطريقي، عبد الله عبد المحسن (١٤٣٠هـ ٢٠٠٩م) الاقتصاد الإسلامي أسس و مبادئ و أهداف، جامعة الملك سعود .

۲۵. عمر، أحمد مختار عبد الحميد (١٤٢٩هـ - ٢٠٠٨م) معجم اللغة العربية المعاصرة: عالم الكتب، ط: الأولى.

۲۶. الغزالي، أبوحامد محمدبن محمد الطوسي (١٤١٣هـ - ١٩٩٣م) المستصفى، تحقيق: محمد عبد السلام عبد الشافي: دار الكتب العلمية، ط: الأولى.

۲۷. الفراهيدي، أبو عبد الرحمن الخليل بن أحمد بن عمرو بن تميم البصري (ب، ت) كتاب العين، المحقق: د مهدي المخزومي، د/إبراهيم السامرائي: دار ومكتبة الهلال.

۲۸. الفيومي، أحمد بن محمد بن علي الحموي، أبو العباس (ب، ت) المصباح المنير في غريب الشرح الكبير، بيروت: المكتبة العلمية..

۲۹. المباركفوري، صفي الرحمن (ب، ت) الرحيق المختوم، بيروت: دار الهلال.

۳۰. مسلم، أبو الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري النيسابوري (١٣٣٤هـ) الجامع الصحيح «صحيح مسلم» تركيا: دار الطباعة العامرة.

۳۱. المناوي، زين الدين محمد المدعو بعبد الرؤوف بن تاج العارفين بن علي بن زين العابدين الحدادى القاهري (١٤١٠هـ-١٩٩٠م) التوقيف على مهمات التعاريف، القاهره: عالم الكتب.

۳۲. ملا خسرو الحنفي (ب، ت) درر الحكام شرح غرر الأحكام. دار إحياء الكتب العربية.

۳۳. النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف (١٣٩٢) المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، بيروت: دار إحياء التراث العربي، ط: الثانية.

۳۴. النيسابوري، أبو عبد الله محمد بن عبد الله الحاكم (١٤١١ – ١٩٩٠) المستدرك على الصحيحين، تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا، بيروت: دار الكتب العلمية – بيروت : الأولى.

**ملخص البحث**

تناول المقال تنمية المال و مكافحة فساده في ضوء السنة النبوية و بين علاقته بالتربية الأخلاقية و فلسفتها، لتثبت أن أصل حفظ المال و تطوير الموارد من مقاصد الشارع الحكيم، فالسنة هي المصدر الأصلي و المنبع الصافي الذي يلزم المؤمن أن يستنبط منه القيم الأخلاقية و الروحية المساعدة لحياته الاقتصادي و الاجتماعي، و لعل من أظهر الأصول التي سعت السنة النبوية إلى تطويرها و المحافظة عليها هي الموارد المالية للأمة الإسلامية التي جعلتها الشريعة الإسلامية هدفاً من أهدافها الكلية و مقاصدها العظمى، فالمنهاج النبوي يخطط معالم الخيرية للأمة لتحقيق التطوير و التنمية و التعاون والتكافل الاجتماعي، و ذلك بنشر مفهوم الاحتساب لرقابة المال و تأمينه؛ لتحقيق الاستقرار و الأمن الاقتصادي، فالسنة تعين معالم الخيرية للأمة الإسلامية على أساس الأمر بالمعروف و النهي عن المنكر، لإيجاد مجتمع الرقابة الذاتية على المستوى الفردي، الرقابة العامة على المستوى الجماعي في إطار عام يحقق للأمة تطورها و توحيد كلمتها و استقرارها.

**الكلمات المفتاحية:** تنمية، المال، مكافحة، فساد، السنة النبوية